# شتمني SHTAMANI

اوونيزه

تأسيس: ۱۳۹۴ل ل

زموږ ماليه، زموږ هيواد، زموږ راتلونکی

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت

پنځم کال | ۱۳۹ ګڼه | ٤ مخيزه

د ذوالقعدې ٦ -١٤٤٦ل س | د غويي ١٤ -١٤٠۴ل ل | د مې ٤-٢٠٢٥ز

۱


**د تقویٰ اهميت**

ژباړه: رسول اکرم صلی الله عليه وسلم فرمائلي دي: چاته چي د تقوی صفت ورکړل سو؛ نو ده ته د دنيا او اخرت خير ورکړل سو.

کنزالعمال ج۳ص۹۱

**اهميت تقوا**

ترجمه: رسول اکرم صلی الله عليه وسلم فرموده است: به کسی که صفت تقوا داده شود، گويا به وی خير دنيا و آخرت داده شد.

کنزالعمال ج۳ص۹۱

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

## سرمقاله

### د کورني صنعت وده اساسي اړتيا ده

صنعتي کېدل د افغانستان لپاره يوه اساسي موضوع او په اوسنيو شرايطو کي نه انکار کېدونکې مسئله ده، ځکه صنعت د ابادۍ بنسټ دی او د بېکارۍ خو هيڅ سوال نه پيدا کېږي. هغه هيوادونه، چي صنعتي دي پر خپلو پښو ولاړ دي او د پراخ کار زمينه هم پکي برابره ده. صنعتي هيوادونه په ځان تکيه وي، توليدات ئې خپل وي، ځوانه طبقه ورسره بوخته وي او حتی بهرني کارګر راځي او بوختيا پيدا کوي. د صنعتي کېدو دغه او دې ته ورته نوري ډېري ګټي دي. خو داچي، د ماليې وزارت د افغانستان د صنعتي کېدو په تړاو څه ګامونه پورته کوي او يا هم په راتلونکي کي څه کولای سي، نو دا موضوع به راتلونکي ته پرېږدو. ماليې وزارت په دې نږدې راتلونکي کي د ګمرکونو او عوايدو معينيت د تعرفې کمېټې د روان کال په لومړنۍ مشورتي ناسته کي د تعرفې رياست له لوري د بازار، سوداګرۍ او صنعت د وضعيت له تحليلولو او ارزولو وروسته پر يو شمېر وارداتي توکو، چي بديل ئې په افغانستان کي توليدېږي تعرفه لوړه کړي او په دې سره غواړي د کورني صنعت او کرني ملاتړ او د ملي عوايدو لوړېدلو ته وده ورکړي او همداشان په کور دننه توليد سويو توکو ته د خرڅلا ښه زمينه برابره کړي. دغه موضوع په داسي حال کي مطرح کېږي، چي ماليې وزارت د صنعت کارانو، سوداګرو او پانګوالو غوښتني هم په ورين تندي په پام کي نيولي دي او د دوی مشروع غوښتني په پام کي نيول د اسلامي امارت په ځانګړي ډول د ماليې وزارت له لومړيتونو څخه دي، چي وکولای سي سوداګر له نظام سره خپله همغږي او همکاري زياته کړي، پانګوال پانګوني ته وهڅول سي، اقتصادي ستونزو ته په ګډه د حل لاره پيدا سي او د يوه صنعتي او زراعتي افغانستان په لوري جوړه ګامونه واخيستل سي. د ماليې وزارت د مشرتابه له لوري دغه او دې ته ورته اقدامات لکه؛ بهرنيو هيوادونو ته له افغانستان څخه د زړو اوسپنو په صادرولو کلک بنديز د کورني صنعت او پانګوني ملاتړ دی او پايله ئې همدا سوې ده، چي د هيواد په بېلابېلو ولايتونو کي په لسګونو د اوسپنې ويلي کولو فابريکې فعالي سي، د غذايي او نورو توکو توليد زيات سي، په سلګونو ميليونه افغانۍ پانګونه وسي، سوداګر او صنعتکاران په هيواد او په نظام باور پيدا کړي او په کور دننه د کار د زميني برابرولو لمن پراخه سي. دا چي، ماليې وزارت د صنعتکارانو او سوداګرو د ښو فعاليتونو په وړاندي دا ډول ګامونه پورته کړي او يا هم په راتلونکي کي دوی ته د اسانتياوو برابرولو او يا د صنعت د ودې په موخه دغه ډول ګام پورته کوي، صنعتکارانو ته هم اړينه ده، چي خپل توليدات په دايمي لوړ کيفيت توليد کړي، د خپلو خلکو باور ترلاسه کړي، نړۍ وال معيار او موازينه په پام کي ونيسي، ترڅو؛ وکولای سي هيواد ته د مشابه توکو د راوړلو تشه ډکه سي او پر بهرنيو توليداتو د خلکو تکيه راکمه سي. که څه هم په يو شمېر توکو د تعرفې لوړول بشپړ نوملړ زموږ په ټولنيزو رسنيو خپور سوی، خو يو څو ئې د بېلګي په توګه ذکر کوو: د لوبيا کنسرونو مخکنۍ ګمرکي تعرفه ۳۰ سلنه اوس ۴۰ سلنه سوې ده، د دالو مخکنۍ ګمرکي تعرفه ۵ سلنه اوس ۲۰ سلني ته لوړه سوې ده، چي دغه ډول په لسګونو ډوله موادو باندي تعرفه لوړه او د کورني توليد ملاتړ ته ښه تکيه ورکول سوې ده. زموږ موخه د صنعتي او زراعتي افغانستان درلودل دي او دغه چاره هغه مهال ممکنه ده، چي نظام او صنعتي قشر يوه او بل ته لاس ورکړي. د وارداتو پر ځای تکيه پر صادراتو زياته سي او دا بيا هله ممکن دي، چي افغانستان کي صنعت پراختيا ومومي او د صنعت پراختيا ته د ماليې وزارت ژمن دی او تل به د سوداګرۍ لاره هواره ساتي.

درنښت

اداره

## د ماليې وزير د يو پلاوي په مشرۍ په سپين بولدک کي د کډوالو له کمپ څخه ليدنه وکړه




د ماليې وزير حاجي ملا محمد ناصر اخوند د دغه وزارت مالي معين او د کډوالو عالي کمېسيون د مالي مسئول حاجي عبدالقدير احمد او د خزاينو لوی رئيس نصرت الله محمود په ملتيا کندهار ولايت ته د رسمي سفر په ترڅ کي په سپين بولدک کي د راستنېدونکو کډوالو له وضعيت څخه ليدنه وکړه او هلته ئې د کډوالو له پاره د چمتووالي بهير له نږدې څخه و ارزاوه. د ماليې وزير او مل پلاوي، همداراز په سپين بولدک کي د کډوالو له پاره د ټاکل سوي مالي کمېټې چاري هم وارزولې او له مسئولينو سره ئې د چارو د لا ښه پرمختګ په موخه اړيني سپارښتني شريکي کړې. د يادولو ده، چي له پاکستان هيواد څخه په جبري ډول د را ايستل سويو هيوادوالو له پاره د اړينو اسانتياوو د برابرولو په موخه بېلابېلي کمېټې جوړې سوي دي، چي د مالي کمېټې مشري ئې د ماليې وزارت مالي معين کوي او په اړونده برخه کي د اسانتياوو برابرولو چاري ئې په نورمال ډول رواني دي.

## د کندهار په محصولي ګمرک کي د (۵،۴) ميليونه افغانيو په ارزښت د لمريزي برېښنا سيستم جوړ سو



د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رياست د (۵،۴) ميليونه افغانيو په ارزښت د کندهار محصولي ګمرک له پاره د لمريزي برېښنا سيستم جوړ او ګټې اخيستني ته وسپاره. تر دې وړاندي د کندهار محصولي ګمرک برېښنا له امارتي او د جنراتور له برېښنا څخه چمتو کېده، چي ورځنی لګښت ئې شاوخوا (۱۹۵۴۰) افغانۍ، مياشتنی (۵۰۸۰۴۰) افغانۍ او کلنی لګښت ئې څه باندي شپږ ميليونه افغانۍ کېده. د لمريزي برېښنا د سيستم له فعالېدو سره به په کلني ډول په ميليونونو افغانۍ و سپمېږي او ترڅنګ به ئې تخنيکي ستونزي هم راکمې سي. د يادولو ده، چي د يادي پروژې لګښت د ماليې وزارت له پراختيايي بوديجې څخه ورکول سوی او چاري ئې د يوه افغاني شرکت له لوري پلي سوي دي.

## د کورني صنعت د ودي په موخه د يو شمېر اقلامو د تعرفو په اړه مهمي پرېکړې وسوې

د ماليې وزارت د ګمرکونو او عوايدو معين الحاج مفتي عبدالمتين سعيد په مشرۍ د تعرفې کمېټې د روان (۱۴۰۴ هـ.ل) کال لومړنۍ ناسته د دغه معينيت د غونډو په تالار کي وسوه. د ناستي په پيل کي د تعرفې رياست له لوري د لاندي ذکر سويو اقلامو په اړه د بازار، سوداګريز او صنعتي تحليل او همدارنګه د سوداګرو، صنعتکارانو او اړوندو ادارو غوښتني د غونډې له ګډونوالو سره شريکي سوې، چي د تعرفې کمېټې غړو د يادو اقلامو په اړه تر هر اړخيز بحث وروسته د کورني صنعت څخه د ملاتړ، کرني، سوداګرۍ او ملي عوايدو د ودي اصل ته په کتو ئې لاندي پرېکړي وکړې، چي له منظورۍ وروسته به د تعرفې له اصولو سره سم پلي سي.

| ګڼه | د توکي نوم | د ګمرکي تعرفې مخکينۍ فيصدي | اوسنۍ ټاکل سوې تعرفه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د لوبيا، مټرو او نخودو کنسرونه | ٪۳۰، ٪۲۵ او ٪۸۰ | ٪۴۰ |
| ۲ | د پنير د اوبو پوډر | ٪٦۰ | ٪۵۰ |
| ۳ | د آيسکريم جوړولو ماشين | ٪۲۰ | ٪۵ |
| ۴ | د اوبو يخولو ماشين | ٪۲۰ | ٪۱۲ |
| ۵ | اچار | ۱۰٪ | ٪۳۰ |
| ٦ | ککاو | ٪۱۰ | ٪۳۰ |
| ۷ | د نلونو اوسپنيز نښلوونکی او شيردان | ٪۱۰ او ٪۳۰ | ٪۲۰ |
| ۸ | کېمياوي کوډ (سره) | ٪۵،۲ | ٪۱ |
| ۹ | تور نخود (په صنعتي فابريکو کي ورڅخه ګټه اخيستل کېږي) | ٪۱٦ | ٪۱۰ |
| ۱۰ | دال | ۵٪ | ۲۰٪ |

همداشان د سوداګرۍ د لا اسانه کولو په موخه دغي کمېټې د يو شمېر توکو له پاره د تعرفوي کوډونو پر جوړولو هم پرېکړه وکړه.



د ګمرکونو لوی رياست په اداري ناسته کي د ګمرکي اسانتياوو پر رامنځته کولو خبري وسوې

م ۲



د شهرنو پر سوداګريزي او استوګنيزي ودانۍ د پانګوني په موخه د آفرګشايۍ ناسته وسوه

م ۲



د تورغونډۍ په سرحدي ګمرک کي ګمرکي مسئولينو څلور تنه غله نيولي

م ۲



تېره اوونۍ د هيواد په بېلابېلو ولايتونو کي په زياته اندازه قاچاقي توکي نيول سوي دي

م ۲



آيا فرصت سرمايه گذاری در افغانستان فراهم شده؟

م ۳




د «خواف ـ هرات» اورګاډي پټلۍ به تر (مارچ/ ۲۰۲٦)ز پوري په بشپړه توګه فعاله سي

م ٤

شتمنۍ SHTAMANI
اوونیزه

# د گمرکونو لوی ریاست په اداري ناسته کي د گمرکي اسانتیاوو پر رامنځته کولو خبري وسوې

د مالیې وزارت د گمرکونو لوی ریاست د (۱۴۰۴) کال لومړنۍ اداري ناسته د گمرکونو لوی رئیس الحاج مولوي محمد حامد احمد په مشرۍ او د یاد ریاست د مرستیالانو، رئیسانو او آمرینو په گډون د دغه ریاست په مقام کي وسوه. په دې ناسته کي د صادراتي، وارداتي او ترانزیټي توکو په گمرکي طی مراحلو کي پر موجودو ستونزو او حل لارو، د گمرکي تعرفوي کوډونو پر اصلاح، د گمرکونو لوی ریاست پر پراختیایي



پروژو، د یاد ریاست د مرکزي او ولایتي ادارو د ورځنیو چارو پر لا ښه والي، په گمرکونو کي د یو شمېر سوداگریزو شرکتونو او صنعتکارانو د غوښتنو او ستونزو پر حلولو او یو شمېر نورو موضوعاتو خبري وسوې او په تړاو ئې لازم تصامیم ونیول سول. د یادولو ده، چې د مالیې وزارت تل هڅه کوي، چې د هیواد په گمرکونو کي د کورنیو او بهرنیو سوداگرو له پاره لا ډېري اسانتیاوي برابري او د ملي سوداگرۍ لا پراخولو ته ښه زمینه برابره کړي.

# د شهرنو پر سوداگریزي او استوگنیزي ودانۍ د پانگوني په موخه د آفرگشایۍ ناسته وسوه

د مالیې وزارت د امارتي املاکو لوی ریاست له لوري، د شهرنو پر سوداگریزي او استوگنیزي ودانۍ د پانگوني په موخه د آفرگشایۍ ناسته د یو شمېر غوښتونکو شرکتونو په گډون د مالیې وزارت په خیبرهال کي وسوه. په دې ناسته کي شپږو شرکتونو د گډون غوښتنه کړې وه، چې له دې ډلي یوازي د (۲) شرکتونو استازي حاضر ول. د دغو (۲) حاضرو شرکتونو ټول اسنادونه وکتل سول، چې له دې پروسې وروسته به د ارزوني په موخه یوه کمېټه جوړه او وروسته به دغه اسناد د بریالي شرکت د قرارداد د اعلان او وروستۍ پرېکړې په موخه د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت ته وسپارل سي. د یادوني وړ ده، چې دغه ودانۍ به پر (۲۶۷۶) متره مربع ځمکه په دوو ځمکپوړونو او شلو پوړونو کي ودانه سي، چې ورسره به یو شمېر هیوادوالو ته د کار زمینه هم برابره سي.



# د تورغونډۍ په سرحدي گمرک کي گمرکي مسئولینو (۴) تنه غله نیولي

د مالیې وزارت د ساتني او ځانگړو عملیاتو تنفیذي قطعې څیرکو کارکوونکو د هرات ولایت تورغونډۍ په سرحدي گمرک کي د سخي داد، چې په بډوک مشهور وو، عصمت الله، سلام او عبیدالله په نومونو څلور تنه غله ونیول. دغه غله داسي مهال نیول کېږي، چې غوښتل ئې د موټرونو په تمځای کي د لویو بار وړونکو موټرونو له ټانکیو څخه تېل



او نور تجاري توکي ولوټي، چې د یادي قطعې د مسئولینو له لوري لاس په لاس ونیول سول. نیول سوي کسان د نورو څېړنو په موخه اړوندو ارگانونو ته سپارل سوي دي. د یادوني وړ ده، چې له دې وړاندي هم د ساتني او ځانگړو عملیاتو تنفیذي قطعې څیرکو کارکوونکو د هرات ولایت په سرحدي گمرک کي څلور تنه غله نیولي ول.

# د نیمروز مستوفیت او د بلخ ولایت د گمرک کارکوونکو ته د «مسلکي کولو» روزنیز پروگرامونه پیل سول

د مالیې وزارت د عوایدو او گمرکونو ملي اکاډمۍ د کلني تدریسي پلان پر اساس د نیمروز مستوفیت (۳۴) تنو کارکوونکو او د بلخ ولایت د گمرک (۴۵) تنو کارکوونکو ته د «مسلکي کولو» تر سرلیک لاندي روزنیز پروگرامونه پیل سول. د نیمروز ولایت مستوفیت کارکوونکو ته به په (۲۲) ورځني روزنیز پروگرام کي د یادي اکاډمۍ د مسلکي ښوونکو له لوري مالیاتي قوانین، مالیاتي طرزالعملونه، مالیاتي فرامین، اظهارلیکونه، مالیاتي محاسبې او مالیاتي سیستمونه تدریس او تشریح سي. بل اړخ ته به د بلخ ولایت گمرک کارکوونکو ته په یو میاشتني روزنیز پروگرام کي د گمرک اړوند موضوعات، د کارکوونکو د ظرفیت لوړوني په موخه د گمرکي قوانینو تشریح، گمرکي کړنلاري، گمرکي بیې ټاکني، تعرفې، د کورني او بهرني ټرانزیټ کړنلارو تشریح، د(TIR) نړیوال ټرانسپورټ د کړنلارو تشریح او د نړیوال خوندیتوب پروگرام په برخو کي روزنه ورکړل سي. د یادوني ده، چې د دغو پروگرامونو په ترسره کولو سره به د اړوندو کارکوونکو مسلکي وړتیاوي لوړي، سته ستونزي به حل او د چارو لا ښه پرمختگ ته به زمینه برابره سي.



# تېره اوونۍ د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کي په زیاته اندازه قاچاقي توکي نیول سوي دي

د مالیې وزارت د گمرکونو لوی ریاست د گرځنده خارني کارکوونکو تېره اوونۍ د نیمروز، کندهار، فراه، هرات او هلمند ولایتونو په بېلابېلو سیمو کي په زیاته اندازه قاچاقي توکي نیولي دي، چې قاچاق کوونکو غوښتل په پټه ئې افغانستان ته راوړي. په نیول سویو توکو کي (۲۲۵۶۰) کیلو گرامه انساني او زراعتي درمل، (۵۲۶۵) کیلوگرامه مالگه، (۱۹۲۰) کیلو گرامه چاکلېټ، (۱۱۱۰) کیلو گرامه رُب، (۲۰۵۶) کیلو گرامه پنیر، (۹۰۰) کیلو گرامه د لیمو اوبه، (۲۲۰) کیلو گرامه وچې شیدې او (۶۱۶) کیلو گرامه مکروني شامل دي.






نیول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو له پاره اړوندو گمرکونو ته سپارل سوي دي. د یادوني وړ ده، چې د مالیې وزارت د گرځنده خارني کارکوونکي په ټول هیواد کي گرځنده خارني کوي او هیچا ته اجازه نه ورکوي، چې ممنوعه او قاچاقي توکي ولېږدوي.

# د مسلم سوداگریز مرکز د جوړولو پروژې له پاره د آفر گشایي ناسته وسوه



د مالیې وزارت د امارتي املاکو لوی ریاست د مسلم سوداگریز مارکېټ، چې په (۱۰) نمبر دوکان په نوم پېژندل کېږي او د کابل ښار (۱۱) مې ناحیې د لېسه مریم په سیمه کي موقعیت لري، د جوړولو او پانگوني په موخه ناسته د داوطلبانو په گډون، د دې وزارت په خیبر تالار کي وسوه. په دې ناسته کي (۲۵) داوطلبو شرکتونو، چې د هیواد په اقتصادي پراختیا او وده کي د پانگوني غوښتونکي ول برخه اخیستې وه. دا سوداگریز مارکېټ به د ځمکپوړ په گډون په اتو پوړونو کي، چې مساحت ئې (۲۳۲) متره مربع دئ جوړ او د هیوادوالو له پاره به کاري فرصتونه هم برابر کړي. د یادولو وړ ده، چې د تحلیل او ارزوني کمېټې له خوا له بیاکتني وروسته به وړاندیز سوې طرحه د وروستۍ پرېکړې او گټونکي شرکت د اعلانولو له پاره د ریاست الوزراء معاونیت ته وړاندي سي.

# د اسلام کلا په سرحدي گمرک کي یوه اندازه تاریخ تېر خوراکي او غیر خوراکي توکي وسوځول سول



د هرات ولایت د اسلام کلا په سرحدي گمرک کي له ولایتي ادارو سره په همغږۍ (۲۷) زره کیلو گرامه تاریخ تېر خوراکي او غیر خوراکي توکي، چې د یاد گمرک په هنگرونو کي ئې شتون درلود، د اړوندو ادارو د با صلاحیته استازو په حضور کي وسوځول سول. د یادولو ده، چې د دغو توکو یوه اندازه ئې په قاچاقي ډول هیواد ته راوړل سوي ول او یوه اندازه ئې له بهرنیو هیوادونو څخه تاریخ تېر را وارد سوي ول، چې د گمرک په هنگرونو کي ساتل کېدل.

# آیا فرصت سرمایه گذاری در افغانستان فراهم شده؟

سیدالهام سادات کارشناس تحلیل پالیسی های
حکومتداری و خدمات معینیت پالیسی

شتمنی SHTAMANI
اوونیزه

... ادامه شماره قبلی

**فرصت سرمایه گذاری خارجی در افغانستان:**

با روی کارآمدن امارت اسلامی افغانستان بسترخوب و مناسب برای سرمایه گذاری درافغانستان مهیا گردیده است.

نه تنها افغان ها بلکه سرمایه گذاران خارجی نیز میتوانند ازفرصت مهیا شده درسکتوربرق ، معادن، زراعت، ترانسپورت، زیربنا تکنالوژی، صنعت و تجارت سرمایه گذاری نمایند، تسهیلات بسیاری برای سرمایه گذاران وحمایت از سرمایه گذاران فراهم گردیده است، امنیت برای سرمایه گذاران وجود دارد روند سرمایه گذاری میان همه نهاد ها یک سیستم هماهنگ کننده ایجاد شده است اقتصاد افغانستان درچند دهه گذشته به دلیل اشغال وجنگ بی ثباتی سیاسی وامنیتی آسیب های زیاد متحمل شده است، دراین زمینه هیچ کار اساسی و بنیادی انجام نشده، که به علت آن میلیون ها شهروند به کشورهای دیگر آواره شده اند، به دلیل نابه سامانی ها بیشتر سرمایه ها از کشور خارج و سایر ملت ها ازآن برای رفاه خود استفاده کرده اند. که نمونه خوب سرمایه گذاری سرمایه گذاران افغان در کشورهای همسایه هستند. با آمدن امارت اسلامی فرصت های سرمایه گذاری در سراسر کشور فراهم گردیده، امنیت که شرط اول و اساسی برای سرمایه گذاری و سرمایه گذاران است، خوشبختانه در سراسر کشور تامین گردیده است، امارت اسلامی امنیت سر و مال سرمایه گذاران را تامین نموده است و آنان میتوانند با اطمینان در نقاط مختلف کشور سرمایه گذاری نمایند و سرمایه های شان را ازخارج کشوربه داخل افغانستان انتقال نمایند و در بخش های مختلف سرمایه گذاری نمایند.



**تسهیلات در بخش سرمایه گذاری خارجی:**

به منظور ارائه تسهیلات به سرمایه گذاران یک مرکز واحد سرمایه گذاری در میدان هوایی بین المللی کابل ایجاد گردیده است، این مرکز خدمات پاسپورت و ویزه را درمدت زمان بسیارکوتاه به سرمایه گذاران ارائه میدهد. مجوز های کار را اعطا می کند طرح های آنها در یک محل طی مراحل و به منظور یافتن آدرس های معلوم و ارزیابی اقتصادی مالی وتخنیکی طرح های ارائه شده به کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی محول می گردد. به منظور فراهم نمودن تسهیلات لازم به سرمایه گذاران به اساس فرمان خاص عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی زیرچتر معاونیت اقتصادی ریاست الوزرا تشکیل شده است. کمیته سرمایه گذاری جهت تسریع و شفافیت در پروسه های سرمایه گذاری و پروژه های سرمایه گذاری در افغانستان تشکیل شده است، در این کمیته نمایندگان تخنیکی و مسلکی وزارت خانه ها و ادارات مختلف سکتوری حضور دارند و به طور مرتب طرح های ارائه شده را ارزیابی می کند.

**مشوق ها برای سرمایه گذاری خارجی:**

به منظور اعطای تسهیلات و حمایت از سرمایه گذاران امارت اسلامی افغانستان به تمامی سرمایه گذارانی که می خواهند در افغانستان سرمایه گذاری کنند، و یا سرمایه خود را ازکشورهای دیگر به افغانستان انتقال دهند در پارک های صنعتی زمین را توزیع وتا پنج سال ازهرنوع مالیات معاف می کند. تمامی سرمایه گذاران درزمینه کارگران مسلکی ماشین آلات ومواد اولیه ای که از کشورهای خارجی وارد می کند تسهیلات ویژه برایشان در نظرگرفته شده و محدویت گمرکی و وارداتی بر آن وجود ندارد. به منظور تشویق سرمایه گذاران داخلی و خارجی نمایشگاه های ملی و بین المللی با حمایت همه جانبه امارت اسلامی به منظور بازاریابی محصولات تولید شده در داخل و خارج از کشور راه اندازی گردیده است. نیروی کارمناسب و ارزان امتیازی دیگری است که سرمایه گذاران میتوانند با سرمایه گذاری در افغانستان بدست آورند، طبقه کارگر افغانستان را جوانان تشکیل می دهند که توانایی خوب کار را در زمینه های مختلف دارند.

**پیشنهادات و راه های بدیل برای خوبتر شدن اوضاع اقتصادی و سیاسی:**

اول: باز کردن راه تعامل سیاسی و دیپلوماتیکی میان افغانستان و سایر کشور های جهان از بعد اقتصادی و ترانزیتی.
دوم: روابط خارجی میان دولت ها در عرصه ساختار پالیسی های اقتصادی شان موضوع اهم و حیاتی است.
سوم: با استفاده از مدیریت حل منازعات باید کوشید که بحران سیاسی و اقتصادی را مهار کنیم.

سیدالهام سادات کارشناس تحلیل پالیسی های حکومتداری و خدمات معینیت پالیسی وزارت مالیه.

پایان

# اعلانات داوطلبی

### د داوطلبی خبرتیا

د مالیې وزارت د امارتي املاکو لوی ریاست غواړي چې د کابل ښار په اوله ناحیه کې یو باب امارتي ملکیت د طارق بن زیاد سوداګریز مارکېټ چې په (٢١) نمبر آپارتمان مشهور دی او مساحت ئې (٢١۴.۴١۴) مترمربع دی د پانګوني په موخه د ازادي داوطلبۍ له لارې اعلان ته و سپاري.
د یاد ملکیت د جي.پي. ایس کوردینات (طول البلد- ٦٩.١٧٦۴٧۵) او ( عرض البلد- ٣۴.۵١٣٦۵١) دی، چې له یوې تهکوی(ځمکتل) سره په (٨) پوړونو کې جوړېږي.
ټول هغه حقیقي او حکمي اشخاص چې غواړي په یاد امارتي ملکیت پانګونه وکړي کولای سي چې خپل غوښتنلیکونه د ( ١۴٠۴/ ثور/١٠ نېټېځخه تر ١۴٠۴/ جوزا /٠٩) نېټې د دیرش (٣٠) ورځو په موده کې د مالیې وزارت د امارتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او شرطپانه د (۵٠٠٠) پنځه زره افغانیو په بدل کې تر لاسه کړي، آفرخلاصونه د مالیې وزارت خیبر د غونډو په تالار کې د اعلان د ختمیدو تر نیټې یوه ورځ وروسته په (١۴٠۴/جوزا/١٠) نېټه ترسره کېږي.
د اعلان د خپرېدو نېټه: د ١۴٠۴/ثور/ ١٠ د اعلان د ختمېدو نېټه د ١۴٠۴/ جوزا/ ٠٩
د اړیکې شمیره: ٩٣٧٩٦٧۵٧۴٨٦+ د واټسپ شمیره: ٩٣٧٩٦٧۵٧۴٨٦+
د شرطپاڼي د ترلاسه کېدو پته: د امارتي املاکو لوی ریاست سینماپامیر (١۴) پوړیزه ودانۍ، څلورم پوړ، د پلان او پانګونې آمریت.

### اعلان داوطلبی

ریاست عمومی املاک امارتی وزارت مالیه دوباب وترین واقع نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه پنجم شهر کابل را به شکل آفر سربسته طور جداگانه به اعلان داوطلبی می پسارد، مدت(١) سال.
١. یکباب وترین نمبرD١٣ به مساحت ٤ مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٢۵٠٠) افغانی.
٢.یکباب وترین نمبر D١٤بمساحت٣,٠٤مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی همجوار حمام به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٢٠٠٠) افغانی.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦٩,١١٧٤٦ ٣٤,٥١٥٢٧٢
اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد های فوق الذکر باشند میتوانند در خواست های شان را از تاریخ (١۴٠۴/٠٢/۴ الی ١۴٠۴/٠٢/٢۴) به مدت (٢١) روز به ریاست عمومی املاک امارتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.
آدرس :سینما پامیر تعمیر ١٤ منزله، منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار داد های مرکز شماره تماس :(٠٢٠٢٩٢٤٦٠٧- ٠٢٠٢٩٢٤٦٢٤)،
تاریخ مجلس داوطلبی : ٢۵/ثور/ ١۴٠۴ به ساعت(١٠:٠٠) قبل از ظهر برگزار میگردد.

### اعلان داوطلبی

ریاست عمومی املاک امارتی وزارت مالیه دو جایداد ذیل واقع ناحیه اول و پنجم شهر کابل را به شکل آفر سربسته طور جداگانه به اعلان داوطلبی سپرده میشود. مدت(٣) سال.
١.یکباب غرفه نمبر٢٩ بمساحت٤,٢ مترمربع واقع منزل اول تعمیر ١٤ منزله سینما پامیر مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(٢٢٤١٦,٦ ) افغانی.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦٩,١٧٢١٩ ٣٤,٥١٣٤٢
٢. موازی٣٠٠ مترمربع زمین بنام چاه عمیق واقع خوشحال خان مینه مربوط ناحیه پنجم شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(٦٣٣٣) افغانی.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦٩,١١٨٦٢ ٣٤,٥٢٣٨
اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایدادهای فوق باشند میتوانند در خواست های شان را از تاریخ ( ٠۴/ثور/ ١۴٠۴ الی ١٧/ ثور/ ١۴٠۴) به مدت (١٤) روز به ریاست عمومی املاک امارتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.
آدرس :سینما پامیر تعمیر ١٤ منزله، منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار داد های مرکز شماره تماس :(٠٢٠٢٩٢٤٦٠٧- ٠٢٠٢٩٢٤٦٢٤)،
تاریخ مجلس داوطلبی : ١٨/ثور/ ١۴٠۴ به ساعت(١٠:٠٠) قبل از ظهر برگزار میگردد.

### د داوطلبی خبرتیا

د افغانستان اسلامي امارت د مالیې وزارت پر شرایطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چې ( د ګمرکونو لپاره د دفتري وسایلو د تهیه او تدارک په پروژه )کې چې تشخیصیه نمبر ئې (١٤٤٠-NCB/G/١٤٠٤/MOF) دئ او د داخلي پرانیستي داوطلبۍ په بنه تر سره کېږي، برخه واخلي او شرطپانه ئې په پښتو او دري ژبه د فلش یا میموري له لارې د شرطپاڼې له شرایطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم د لاندې ادرس څخه ترلاسه کړي.
تر داوطلبۍ وړاندې د جلسې ټاکلې نېټه: د (١۴٠۴/ ثور/ ١٦) له غرمې مخکې د سهار ١١:٠٠ بجې.
د آفرګشایي ټاکلې نېټه: د ( ١۴٠۴/ ثور/ ٢٧) له غرمې وروسته د ماسپښین ٠٢:٠٠ بجې.
د آفرتضمین: څلورسوه زره (٤٠٠٠٠٠) افغاني ده.
د اړیکو شمېرې: ٠٢٠٢٩٢٤١٥٦
په ځنډ رسېدلي او انټرنیټي افرونه د منلو وړ نه دي.
ځای: د افغانستان اسلامي امارت د چارو اداري لوی ریاست اړوند د ملي تدارکاتو اداري رسمي ویب سایټ (https://tenders.ageops.af)

### د داوطلبی خبرتیا

د افغانستان اسلامي امارت د مالیې وزارت پر شرایطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چې (د مالیې وزارت د کابل هوائي ډګر ګمرک د شبکې معیاري جوړولو په پروژه )کې چې تشخیصیه نمبر ئې (١٤٤١-NCB/G/١٤٠٤/MOF) دئ او د داخلي پرانیستي داوطلبۍ په بنه تر سره کېږي، برخه واخلي او شرطپانه ئې په پښتو او دري ژبه د فلش یا میموري له لارې د شرطپاڼې له شرایطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم د لاندې ادرس څخه ترلاسه کړي.
تر داوطلبۍ وړاندې د جلسې ټاکلې نېټه: د (١۴٠۴/ ثور/ ١٧) له غرمې مخکې د سهار ١١:٠٠ بجې.
د آفرګشایي ټاکلې نېټه: د ( ١۴٠۴/ ثور/ ٢٧) له غرمې مخکې ١٠:٠٠ بجې.
د آفرتضمین: څلورسوه زره (٤٠٠٠٠٠) افغانی ده.
د اړیکو شمېرې: ٠٢٠٢٩٢٤١٥٦
په ځنډ رسېدلي او انټرنیټي افرونه د منلو وړ نه دي.
ځای: د افغانستان اسلامي امارت د چارو اداري لوی ریاست اړوند د ملي تدارکاتو اداري رسمي ویب سایټ (https://tenders.ageops.af)

شتمني
SHTAMANI
اوونيزه
زموږ ماليه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی
د امتیاز څښتن: د مالیې وزارت
مسئول مدير: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدين عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې
ویبسایټ: mof.gov.af
اېکسپانه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)
د ذوالقعدې ٦ -١٤٤٦ل س | د غويي ١٤ -١٤٠٤ل ل | د مي ٤-٢٠٢٥ز
پنځـم کال | ١٣٩ ګڼـه| ٤ مخيزه


# Herat: Customs Officials Nab 4 Thieves at Torghundiy Border Customs



The Unit of Security and Special Operations Enforcement of MoF has arrested four thieves named Sakhi Dad (aka Baduk), Esmatullah, Salaam, and Obaidullah at the Torghundiy border customs in Herat province. The thieves were arrested while trying to steal fuel and other commercial goods from the tanks of vehicles at parking lot. They were caught red-handed by the officials of the said unit. The arrested individuals have been handed over to the relevant authorities for further investigation, MoF approved.

It is worth noting that previously, the unit of Security and Special Operations Enforcement had also arrested four thieves at the border customs in Herat province.

# Deputy Minister of Customs, Revenues Makes Crucial Decisions on Tariffs of 10 Items, Prioritizes Domestic Industry

The first meeting of Tariff Committee for the current year 1404 (Afghan Calendar) was held in DM for Customs and Revenues under the chairmanship of Alhaj Mufti Abdul Matin Saeed, Deputy Minister of Customs and Revenues.

At the beginning of the meeting, the 'Directorate of Tariff' has shared with the participants the market, commercial and industrial analysis of the items mentioned below in chart, as well as the requests of traders, industrialists and related bodies.

After a comprehensive discussion on the specific items, the members of the Tariff Committee made the following decisions, taking into account the principles of supporting domestic industry, agriculture, trade and national revenues growth, which will be implemented in accordance with the tariff principles after approval of the MoF.

| No | Item | Previous Tariff | New Tariff |
|---|---|---|---|
| 1. | Canned or Baked Beans, Green peas or (and) Peas | 30%, 25% & 80% respectively | 40% |
| 2. | Cheese Water Powder | 60% | 50% |
| 3. | Batch Freezer (Ice Cream Machine) | 20% | 5% |
| 4. | Water Cooler | 20% | 12% |
| 5. | Wrench | 10% | 30% |
| 6. | Cacao | 10% | 30% |
| 7. | Pipes' Iron Connector and Drain Cover | 10% & 30% | 20% |
| 8. | Chemical Fertilizer | 5.2% | 1% |
| 9. | Black Chickpeas (used in industrial factories) | 16% | 10% |
| 10. | Dal (dried and split pulses) | 5% | 20% |

The committee also decided to create 'tariff codes' for a number of goods to further facilitate trade.




# د «خواف ـ هرات» اورګاډي پټلۍ به تر (مارچ/ ٢٠٢٦)ز پورې په بشپړه توګه فعاله سي

تهران ټايمز – TEHRAN TIMES د افغانستان په شمال لوېديځ هرات کې د اورګاډي پټلۍ د بشپړېدو په اړه په يوه راپور کې ليکي، چې ايران پلان لري، چې د «خواف ـ هرات» اورګاډي پټلۍ پاته برخې د روان زېږديز کال تر اګسټ پورې بشپړې کړي او د افغانستان دننه پروژې څلورمه برخه بيا تر (مارچ/ ٢٠٢٦)ز پورې بشپړه کړي.

ورپسې د يادې پټلۍ په تړاو زياتوي، چې وايي د پروژې دوې برخې په افغانستان او دوې هم په ايران کې دي، چې ايران ئې د دريو برخو جوړولو مسؤليت لري.

راپور داډ ورانـدې کړی دئ، چې تر (٢٠٢٣ز) پورې افغان مسئولانو په لويه کچه ستونزې حل کړې وې ــ ايران بيا د پاته برخو د حل له پاره له ايراني شرکت سره د (٢٣,٤) ميليونه ډالرو په ارزښت تړون لاسليک کړ؛ تر څو د پټلۍ د ايران برخه په مراد و رسېږي.

د بار وړلو لومړنۍ ظرفيت په لومړي کال کې (١) ميليون ټنه اټکل سوی دئ، وايي کله چې کار بشپړ سي، نو د اورګاډي عملياتي سرعت به په يوه ساعت کې له (٦٠) کيلوميتره څخه تر (١٠٠) او (١٢٠) کيلوميتره پورې لوړ سي.

د «خواف ـ هرات» د پټلۍ د ارزښت په تړاو داسې توري کاږي: "پټلۍ د چين، قيرغيزستان، تاجکستان، افغانستان، ايران او بالاخره له فارس خليج او اروپا سره په پراخ براعظمي دهلېز کې يوه مهمه اړيکه ګڼل کېږي."

د «خواف ـ هرات» له (٢٢٥) کيلوميتره اورګاډي پټلۍ څخه (٧٨) کيلوميتره په ايران او زياته برخه، يعني (١٤٧) کيلوميتره په افغانستان کې وجود لري.

راپور د پروژې د شاګۍ/ تاريخچې په تړاو ليکلي دي، چې ساختماني چارې ئې په (٢٠٠٧ز) کې پيل سوي دي ــ ايران ئې د دريو برخو (١٤٠) کيلوميترو د رغولو مسؤليت لري او افغانستان ته بيا د باقي (٨٥) کيلوميترو د جوړېدو کار ور د غاړې دئ.




- د پروژې دوې برخې په افغانستان او دوې هم په ايران کې دي ــ له (٢٢٥) کيلوميتره اورګاډي پټلۍ څخه (١٤٧) کيلوميتره په افغانستان او (٧٨) کيلوميتره په ايران کې ده.
- ايران ئې د دريو برخو (١٤٠) کيلوميترو او افغانستان ئې بيا د (٨٥) کيلوميترو جوړولو مسؤليت لري.
- د اورګاډي عملياتي سرعت به په يوه ساعت کې له (٦٠) کيلوميتره څخه تر (١٠٠) او (١٢٠) کيلوميترو پورې لوړ سي.

د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کې دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومې ستونزې حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندې شمېره اړیکه ونیسئ!
اړیکه: ۲۲۱

ریاست عمومی ګمرکات وزارت مالیه همیشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد ګمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!
تماس: ۲۲۱



د شکایتونو اورېدلو خپلواک آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هیوادوال، چې د مالیې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له خپلواک آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندې ادرسونو له لارې شریک کړي.
تلیفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲۴۲۳۳
/ ۰۲۰۲۹۲۴۱۹۰/ ۰۷۴۵۷۶۵۷۵۶ ( ۹۳+ )
برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af